**فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِينَ، وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ!**

نو له دروغجنو څخه پیروي مه کوه، هغوی هڅه کوي، څو ته نرمي او جوړجاړی وکړې، نو هغوی به هم درسره نرمي او جوړجاړی وکړي!

**خبر:**

په دوحه کې د افغانستان په اړه د دوه ورځنۍ ناستې په پای کې د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش د یوه لنډ خبري کنفرانس په ترڅ کې وویل: د سیمې او نړۍ هېوادونه د افغانستان په اړه پر "ګډې تګلارې "سلا شوي دي. نوموړي زیاته کړه چې" دا غونډه د طالبانو د واکمن حکومت رسمیت پېژندلو لپاره نه، بلکې د یوه ګډ نړیوال دریځ د خپلولو په هدف جوړه شوې وه". نوموړي د ګډې تګلارې او دریځ په اړه ډېر جزیات ورنه کړل، خو ویې ویل چې په راتلونکې کې به ورته بله غونډه هم جوړه کړي. هغه په افغانستان کې د ترهګروسازمانونو دوامداره حضور دغه هېواد، سیمې او وراهاخوا نورې نړۍ ته د یوه خطر په توګه یاد کړ.

**تبصره:**

ګوتریش دروغ وایي چې دا غونډه د طالبانو د واکمن حکومت رسمیت پېژندلو لپاره نه وه، ځکه څه موده وړاندې د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستیالې امینې محمد د امریکا په پرینسټن انسټېټیوټ کې ویلي و: ټاکل شوې راتلونکو دوو اونیو کې سرمنشي انتونیو ګوتېرېش افغانستان لپاره د نړۍ د هېوادونو د استازو یوه غونډه راوبولي.

ګوتریش دا هم دروغ وایي چې ګډون کوونکي د افغانستان په اړه پر ګډې تګلارې سلا شوي دي، ځکه هغوی د دغه غونډې په ترڅ کې په دې ونه توانېدل چې واحد نظر ته ورسیږي او په پایله کې یوه ګډه اعلامیه خپره کړي، د غوڅ تحریم او یا څرګند رسمیت پېژندلو لپاره اقدام وکړي، بلکې د تېرو دوه کلونو په څېر یې له طالبانو سره د تعامل «تنبیه او تطمیع» پر سیاست ټینګار وکړ او په دې برخه کې د خپلو اختلافونو د له منځه وړلو لپاره یې د بلې غونډې وعده ورکړه.

ملګرو ملتونو د امریکا په اشارې سره دغه غونډه د دې لپاره رابللې وه، چې نړیوال له طالبانو سره د تعامل په اړه په یوه خوله کړي. خو نه اوس امریکا هغه د ۲۰۰۱ کال امریکا ده، نه ملګري ملتونه او نه نړۍ هغه پخوانۍ ده، چې د امریکا د تفرد سیاست ته تن ورکړي. نړۍ اوس د څو قطبي کېدو په درشل ولاړه ده او هېڅ داسې سیاسي، اقتصادي او نظامي نړیواله چاره نشته چې د امریکا له لیدلوري ورباندې نړیوال د نظر یووالی ولري.

اوسنۍ نړۍ کټ-مټ د هغه وخت له نړۍ سره ورته ده، چې لومړي اسلامي دولت (نبوي دولت) پکې ظهور وکړ او فارس او روم ونشو کولای په عربي جزیره کې د ستر اسلامي دولت د رامنځ ته کېدو، پیاوړي کېدو او بیا د هغه د جهاد پر وړاندې د خپلو سیمو د له لاسه ورکولو مخه ونیسي. دې ته ورته د امت پر سر د واکمنو نظامونو ظاهري بدلونونو د امت اساسي ستونزې نه دي حل کړې، بلکې امت د یوه بل ستر تغییر او بدلون په درشل ولاړ دی. ترمنځ یې داسې مخلص حزب د اسلامي نظام «راشده خلافت» د تاسیس لپاره کار کوي، چې ۷۰ کلونه یې خپله تګلاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې څخه د یوه وېښته په اندازه نه ده بدله کړې او د امت د چارو د سرپرستۍ لپاره یې سوچه اسلامي نظامونه، حللارې او سوچه اسلامي اساسي قانون تیار کړی دی او همدارازیې په امت کې د اسلامي نظام «راشده خلافت» لپاره مسلمان سیاستوال تربیه کړي او دې ته ورته یې په امت کې پراخ ملاتړی عامه فکر رامنځ ته کړی دی.

نو په افغانستان کې اسلامي امارت او په نوره اسلامي خاوره کې د قدرت خاوندان باید دغه واقعیت دقیق درک کړي او د ملګرو ملتونو له لارې له نړیوالو سره د تعامل او جوړجاړي پر ځای باید د حزب التحریر ملاتړ او نصره وکړي، څو امت خپل ورک شوی حامي دولت «راشده خلافت» بیا تاسیس کړي او په داخل کې سوچه اسلام تطبیق او په بهر کې یې نور بشریت ته د پانګوالۍ او ډیموکراسۍ د ظلم او جنایت د ځایناستي په توګه د دعوت او جهاد له لارې ورسوي.

**«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ»**[۸:۲٤]

اې مؤمنانو! د الله سبحانه‌وتعالی او رسول صلی‌الله‌علیه‌وسلم دستور قبول کړئ؛ کله چې تاسو هغه څه ته رابولي چې تاسو ته (مادي، معنوي، دنیوي او اخروي) ژوند درکوي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**